# رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مينځه «اللَّهمَّ اغْفِرْ لي، وارْحَمْنِي، وعافِني، واهْدِني، وارزقْنِي» ويیل. يعنې "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتيا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه

له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مينځه «اللَّهمَّ اغْفِرْ لي، وارْحَمْنِي، وعافِني، واهْدِني، وارزقْنِي» ويیل. يعنې "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتيا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه".

رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپل لمانځه کې د دوو سجدو تر مينځه په دغو پنځو دعاګانو سره دعا کوله چې مسلمان ورته سخته اړتيا لري او د دنيا او آخرت خير پکې دی لکه: د بخښنې غوښتل، د ګناهونو پټول او بنده ته ترې تېرېدل، بشپړ رحمت، له شکونو، خواهشاتو، ناروغيو او مرضونو څخه نجات، د حق لپاره له الله جل جلاله څخه مرسته غوښتل او پرې ثابت پاتې کېدل، او د ايمان، علم، نيک عمل او پاکيزه حلال مال رزق غوښتل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10930